د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن
لیکوال: شیرزاد
۱۹ اکتوبر ۲۰۱۳

# افغانستان، د بردګۍ او غلامۍ په نوملړ کې ۵۸ ځای لري؟!!

«واک فري» بنسټ یوه نوی څیړنه خپاره کړی ده چې په کې راغلي دي چې دا وخت په نړۍ کې کابو دیرش میلیونه انسانان په غلامۍ کې ژوند کوي. دا څیړنه په ۱۶۲ هیوادونو کې تر سره شوی ده چې لومړی ځای موریتاني، دویم ځای هایتي، دریم ځای پاکستان، څلورم ځای هند او ۵۸ ځای افغانستان ته ورکړل شوی دی.

دې څیړنې، غلامي، د انسان قاچاق، شاقه کار، اجباری ودونه او په پوځ کې له ماشومانو ګټه اخیستنه د شاخص په توګه کارولی ده. دا شاخصونه په څرګند ډول ښکاره کوي چې افغانستان ته ۵۸ ځای ورکول، هغو ملنډو ته پاتې کیږي چې کله ناکله یې ځینې بنسټونه د خپلو موخو لپاره پر افغانستان وهي. ځکه چې د اوچتو شاخصونو له مخې افغانستان تر ټولو بد هیواد ګڼل کیږي. غلامي، د انسان قاچاق، شاقه کار، اجباري ودونه، جنسی تیری، اعتیاد، سوالګري، اختطاف، وژل، لوټل، اسارت اوزندان چې ټول د غلامۍ شاخصونه دي، د هر بل هیواد په پرتله په افغانستان کې ورځ په ورځ ډیریږي او د بیوزلو انسانانو ژوند په سخته ګواښي.

دا وخت په افغانستان کې دیرش میلیونه انسانان په اسارت کې ژوند کوي. د نژدې ۴۸ هیوادونو کابو ۸۰ زره بیرحمه سرتیري افغانان په بیرحمۍ وژني، شکنجه کوي او پر جسدونو یې میتیازی کوي. دا سرتیري د خپلو افغانو انډیوالانو سره یوځای د ولسونو پر کورونو اوري، دروازې ورته ماتوي، بیا وربانديې ډزې کوي، ښځې، ماشومان، دهقانان او کارګران، معلمان او انجنیران وژني او له ځان سره یې د اسیر په توګه زندانونو ته بیایي. له بلې خوا، طالبان هم افغانان په انتحاري بریدونو کې وژني، سرونه ورته غوڅوي او په بیرحمۍ یې سوځوي. د دې تر څنګ تنظیمي وسله وال پر ماشومانو او ښځو جنسي تیری کوي او د خلکو د ناموس له لوټلو دریغ نکوي.

داسي یو هیواد یوازې د «واک فري» بنسټ کولای شي په ۵۸ کتار کې ودروي. دا راپور یوازې د هیلري کلنټن په شان ستمګره میرمن کولای شي ومني او په سپین سترګیتوب سره ووایي چې «زه د نړۍ پر مشرانو ټینګار کوم چې دا نوملړ وګوري او اقدامات وکړي، او دغو جرمونو ته د ځواب ویلو لپاره په کار تمرکز وکړي.»

دا ستمګره میرمن ښه پوهیږي چې دولت یې په تیرو دولسو کلونو کې زمونږ په هیواد کې څه ډول ناورین په لاره اچولی، څنګه یې افغانان اسیر کړي دي، څنګه د بیوزلو انسانانو په وینو تویولو سره هڅه کوي د دایمي مریبتوب کړۍ د افغانانو پر غاړه واچوي، څنګه زمونږ هیواد مریبتوب، غلامۍ او بردګۍ ته کاږي. غلامي او بردګي، په اوسني مهال کې د خپلواکی نشتون ته وایي، هغه څه ته وایي چې دا وخت په افغانستان کې ټول افغانان یې په سترګو ویني. نو ویلی شوو چې افغانستان ۵۸ کتار کې نه بلکې د بردګۍ تر ټولو ښکاره بیلګه ده، هغه بردګي چې د ولسونو په مټ به یې هر ځنځیر او هره کړۍ ډیر ژر ماته او دا اسیر او ستمځپلی هیواد به د افغانانو خپلواکه هیواد شي.